ډاکټر لمر افغان
۲۰۱۲/۱۰/۱۰

# پښتنو بله توره وکړه!

درنو هېوادوالو! په خیبر پښتونخوا کې یوه نازولې پښتنه چې لیا ۱۲کلنه وه، په نړیواله کچه یې د سولې او د ماشومانو د حقوقو د خوندي کېدلو هلې ځلې پیل کړې، چې ډېر ژر یې نړیوال شهرت پیدا کړ او د پښتنو په سیمه کې یې د ماشومانو د ښوونې او روزنې ډېوه بله کړه، په ډېرو زړونو کې یې د هېلو ولولې راژوندۍ کړې او د نړۍ ډېرو مخورو ورته د درنښت سر ټیټ کړ.

دغه د آسمان سپوږمۍ او دځمکې یوسفزۍ ملاله نومېږي، چې په معصومیت یې د ماشومانو لپاره د ژوند، روزنې او له ظلمونو نه د خوندي کېدلو غوښتنه کوله، مګر نامردو قاتلانو د دغه پرښتې معصومیت ته هم و نه کتل او نن یې په ډېره نا مېړانه د ښوونځي سپین کمیس ورته په سرووینو سور کړ، په دې موخه چې آب او دانه یې له دې دنیا ورته بنده کړې، امېدونه یې ورته خاورې کړې، چې دغو بې دینو د اللهي لخوا د ازل پدیده هم غوښتل تر سوال لاندې راولي، مګر خدای په حق دی او ملالې ته به شفاعت وکړي!




ملاله یوسفزۍ د وروستیو دوو کلونو په ترڅ کې په پښتونخوا کې د ماشومانو په منځ کې وځلېدله او لکه رڼا سپوږمۍ او تود لمر غونډې یې د غرونو په رغونو کې سر راپورته کړ او په لوړ سر او جګ آواز یې د ماشومانو لپاره د بشر د حقونو غوښتنه وکړه، د بشریت ډیوه یې بله کړه، مګر افسوس چې دغه وړه معصومه پېغلوټه د دې دنیا د نامردو نمرودو لخوا د ټوپکو په ډزو نن ویشتل شوه او تر مرګه ټپي شوې ده، چې د بشریت دوښمنانو غوښتل په خپل دغه کرغېړن کار د ملالې ټول انساني ارمانونه له خاورو سره خاورې کړي. نور نو په سیمه کې د ملالې ډېوه مړه کړي، چې لکه روښانه لمر و نه ځلېږي، مګر د ملالې توده مینه به له ماشومانو سره تل پاتې وي، بس پښتانه دي، چې خپلې خویندې او وروڼه به قرباني کوي او د ټولنیز تروریزم په اړه به لاس تر ذنې ناست وي.

ما د دغه کرښو سرلیک «پښتنو بله توره وکړه» ولیکلو، چې کېدی شي د ځینو احساسات به راوپاروي، چې ګواکې مذهبي یا سیاسي ډلې د پښتنو استازیتوب نه کوي، مګر زما اندېښنه دا ده، چې دغه تروریستي، دهشت ګرې او ظالمې ډلې چېرې مېشت دي! آیا د پښتنو په سیمو کې مېشت نه دي! آیا پښتو او پښتونولي ته نه نځېږي! آیا دسیمې خلکو دغو نا اهلو وحشیانو ته په خپل ټاټوبي کې ځای نه دی ورکړی! دلته ډېر څه دي چې ولیکل شي مګر د قلم له خولې نورنو آفات، خرافات او لیونتوب نه راوځي.
د سوات په سیمه کې، چې له ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۰۹ پورې د سیمې د طالبانو په واک کې ولکه وه او اوسمهال هم په سیمه کې دهشت او وحشت ته لبیک وایي، نو نن یې هم د تلیفون په لیکه د مېړنۍ ملالې د ویشتلو مسؤلیت پر غاړه اخیستی دی او دا یې یاده کړې، چې ګواکې مېړنۍ ملاله د لودیز دودواله ده او د طالبانو پر ضد تبلیغ کوي، مګر دغه بد فعله وحشیان په دې نه پوهېږي چې ملاله خو یوه بې وسلې، معصومه او د ښوونځي یوه متعلمه ده، نه ټوپک لري او نه هم توره! بس همغه د حضرت سلیمان خبره ده، چې یو څوک ګرم یا نا اهله شي، نو لکه سپی یا خوله اچوي او یا هم ګرېوانونو ته خېږي! مګر دغو وحشیانو د معصومې ملالې وینې تویې کړې، لکه یو وحشي ځناور غونډې یې د مېړنۍ ملالې د وژنې هڅه وکړه، خو د ملالې له پښتني معصومانه پوړني نه هم ونه شرمېدل!!

د دغو وحشیانو په دغه غیر انساني، وحشي حرکت د هر پښتانه په لمن د بې ننګې، بې غیرتي او نامردي داغ کېښودل شو. ملاله نورنو لکه یو د پوهې، صداقت او مېړانې تاریخي مشعل وګرځېدله. د ملالې مفکوره، مبارزه او


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

فعالیت به تل په افغانانو کې لکه سره لمبه توده او روښانه وي. که ملاله لکه شمعه په خپلو وینو کې وتپېدله او وسوځېدله، مګر په خپل شتون اوسرو وینو یې ټوله سیمه روښانه کړه. اوس د پښتنو په غیرت، همت، پښتونولي او مېړانه پورې اړه لري، چې د خپل ټبر د خپلواکې او د ظلم نه د ساتلو لپاره څه کوي!!! زه مېړنۍ ملالې ته له پاک الله نه روغتیا او رمټیا غواړم. د ملالې له کورنۍ او له خواخوږو سره ځان په دغه لوی ملي غم کې شریک ګڼم او ټول پښتون ولس ته د جمیل صبر تمنا له پاک الله نه کوم، هیله ده چې ملاله بیا لکه بله ډبوه سر راپورته کړي!

http://www.youtube.com/watch?v=VnzvJ3CuiqQ


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ